کوچی مسافر ۲۰۱۷/۰۱/۱۴

اشرف غنی، ویجاړ وطن او تش شعارو نه

د افغانستان محترم جمهور رئیس ښاغلی ډاکټر محمد اشرف غنی په دی وروستیو ورځو کښی یوځل بیا په خپلو تندو ویناؤ کښی غواړی چه افغانستان دا د جګړی ځپلی او ویجاړهیواد یواځی په تشو شعارونو په ویلو باندی پرته له عملی ګامو داخیستلو څخه جوړ کړی.

ښاغلی ډاکټر اشرف غنی چه د ۲۰۱۴ میلادی کال د جمهوری ریاست د انتخاباتو په درشل کښی د افغانستان مظلوم او مجبوره خلکو ته د رایو د اخیستلو لپاره ډیری غیرعملی وعدی ورکړیدی، ترڅو دی د افغانستان جمهور رییس شو.

د افغانستان مظلوم او مجبوره خلکو د ښاغلی ډاکټر اشرف غنی د جمهوری ریاست د واکمنی په دوو کلنو کښی هغی بدی ورځی او ناخوالی ولیدلی چه تراوسه یی پخپل ژوند کښی بیخی نه وه لیدلی.

ښاغلی ډاکټراشرف غنی د کورنی او بهرنی ذ فشارونو له کبله اوس یو ځل بیا غواړی چی د افغانستان غمځپلی او مظلوم ولس په خپل تشوشعارونو او بیځایه لاپو وغولوی.

د افغانستان محترم جمهور رئیس ښاغلی ډاکټرصاحب اشرف غنی په اوسنی دوو بیلو بیلو غونډو کښی پخپلو خبرو کښی داسی ویلی چی دی به:

- دهیواد خاوره به د هیواد د دښمنانو په ګور بدله کړی.
- دشهید موسی شفیق د افغانستان د مرحوم پاچا اعلحضرت محمد ظاهر شاه د وخت د بهرنیچارو وزیر او صدراغظم او د افغانستان د پخوانی پاچا غازی امان الله خان هغه پاته شوی نیمګړی کارونه سرته ورسوی.
- د هلمند د سند د اوبو لانجه به هم د شهید موسی شفیق د تیرو فیصلو په رڼا کښی حل کړی.

ښاغلی ډاکټر صاحب اشرف غنی !

ستاسو پورتنی د ولولو څخه ډک شعارونه په ویلو او لیکلو باندی ډیرښه خوند کوی، مګر په خواښینی سره باید تاسو ته په ډاګه ووایوچی!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لومړی: ستاسو او ستاسو د ملی «وحدت» حکومت د ډیرو لوړ پوری چارواکی دعمل په ډګرکښی په ګران هیواد افغانستان د کړنو او د شعارونه ترمنځیو ډیراوږد واټن پروت دی چی ستاسو شعارونه یواځی د لاپو پډول ښکاریږی.
څه د پاسه د دوو کلنو څخه لا زیات ستاسو د واکمنی په موده کښی د هیواد امنیتی او سیاسی حالات بیساری کړکیچن شویدی او هره ورځ تربلی تیری ورځی څخه حالات په بدتر ډول سره دوام لری او بیګناه خلک وژل کیږی.
دعمل په ډکر کښی ستاسو د ویناؤ او شعارونو برعکس زموږ د ګران هیواد د تاریخ شرمولی دښمنان هر ورځ زموږ بیګناه او مظلوم هیوادوال وژنی اوزموږ ګران هیواد را ورانوی، چی تاسو یی پخپله د یوی ورځی لاندنی دوه غوره مثالونه ته کتلای شی.

د **کابل د تیری ورځی د غبرګو بریدونو په لړ کښی د وژل شوو شمیر ۳۸ ته ختلی** او**د کندهار په چاودنی کښی د کندهارد والی مرستیال، د ملی شورا غړی او د اماراتو ډیپلوماتان او نور بیګناه خلک هم وژلی** شویدی.
حقیقت دادی چی په ډیر تأسف سره باید تاسو ته وویل شی چی زموږ د ګران هیواد دښمنانو زموږ خپله پلرنی ټاټوبی یی و موږته په هدیرو بدل کړیدی دی.
په ګران هیواد افغانستان کښی اوس داسی سیمه نشه چی په غرونه او دښتونه کښی یی د بیګناه هیوادوالو مړی او د بی نامه پاکو شهیدانوڅخه ډک نه وی.
د کران افغانستان پاکه خاوره نور نو د مړو د ښخولو او موندو د ژړا توان هم نه لری.
دویم:پدی هیڅ شک نشته چی پخوانی وطندوسته پاچاهانو، حاکمانو او د هغوی چارواکی هم د ګران هیواد افغانستان لپاره د تاریخ په اوږدو کښی د قدر وړ خدمتونه کړیدی چی د هغوی کارنامی د تل د پاره د ستاینی او درنښت وړدی.
تاسی پخپله د یوعالم په صفت ممکن ښه پوهیږی چی د یوهیواد د پرمختګ کاروان په لړ کښی هرو مرو په عام ډول د پرمختګ دندی به یو شان وی، مګرد وخت د تیریږو سره سم د دندو د سرته رسولو وسایل لارو چاری او حالات یودبله سره پوره توپیر لری.
د مناسبو وسایلو او لارو چاریدرست کارول او یا دلارو چاری ناوړه کارول د هیواد د پرمختګ پرکاروان باندی پوره اغیزه لری چی پرمختګ کاروان ګړندی او یایی په تپه دروی چی بیرته و شاته لوری ته حرکت ورکوی.
تاسی پخپلو تندو ویناؤ او شعارونو کښیدغازی امان اله خان او د مرحوم پاچا اعلحضرت محمد ظاهر شاه د وخت د بهرنی چارو د وزیر او صدراغظم شهید موسی شفیقد کارنامو یادونه کړی دی چی په ویلو به آسانه کار وی مګر په اوسنی حالاتو کښی د هغو سرته رسولو وسایل او حالات یودبله سره پوره توپیر لری.
تاسی اوس هم پخپل کار کښی د هغوناوړووسایلو څخه په ناوړه توګه کاراخلی چی د دغازی امان اله خان او د مرحوم پاچا اعلحضرت محمد ظاهر شاه د وخت د بهرنی چارو د وزیر او صدراغظم شهید موسی شفیق د دندو د ناکامی سبب شول او د هیواد د مختګ کاروان یی یوه پیړی وشاته وتمبول.
دغازی امان اله خان او د مرحوم پاچا اعلحضرت محمد ظاهر شاه د وخت د بهرنی چارو د وزیر او صدراغظم شهید موسی شفیق د دندو د ناکامیو مسببین همدا اوس ستاسی لیډران او مشاورین دی چی د بهرنیانی دښمنانو په

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لمسون تپل شوی خونړی جګړه پرمخ وړی او د بیګناه هیوادوالو په وژلو اخته دی او زموږ ګران هیواد را ویجاړوی.
د هلمند د اوبو تاریخی لانجه د ایران او افغانستان تر منځ پخپل ورستی پړاو کښی ۵۶ کاله مخکی د مرحوم پاچا اعلحضرت محمد ظاهر شاه د وخت د بهرنی چارو د وزیر او صدراغظم شهید موسی شفیق پواسطه د ایران او اقغانستان ترمنځ تړون د دواړو هیوادو د سوله ایز روابطو په وخت لاسیک شویدی.
ایرانیانو د بین المللی قوانینو له مخی د هغه تړون د نیګړتیاوو برسیره چی د افغانستان حقوق پکښی پایماله شویدی هیڅکله پرخپل هغه لاسلیک شوی تړون باندی عمل ندی کړی بلکه ترنیمه پیړی لا هم زیات وخت تیریږی چی یرانیان په وړیا توګه د هلمند د ټولو اوبوڅخه ګټه اخلی.
د ایرانیانو ددی کارعلتونه لکه لمر روښانه دی چی ایرانیان او د هغوی ګوډاګیان خپل ناروا جګړه زموږ پر ګران هیواد تپلوی دی اوپه بوجیو بوجیو نغدی پیسی رشوتونه و ارګ او ستا د پارالمان و غړو استوی
د افغانستان د مظلوم ولس ستاسی څخه هیله اوس دادی چی تاسی لومړی باید د خپل شاوخوا څخه هغه خاینان او خنډونه لری کړی کوم چی جګړه یی زموږ پر ګران هیواد د خپلو شخصی کټو لپاره تپلی دی.
تاسی لومړی د هیواد د خلکو ترمنځ پررښتنی یوالی باندی په کلکه کار وکړی، او قامی او مذهبی نفاقونه د هیواد او هیوادو له منځه څخه لری کړی. بیا وروسته په هغومهمو غټودندولاس پوری کړی چه پخپل کارناکامه نشی. لاندی عکس ته د نمونیپه ډول ځیر سره وګوری ښه به دا وی چی لومړی د دغوعاجلو دندو چاره ولټوی.

ښاغلی ډاکټر صاحب اشرف غنی ویجاړوطن ستاسو په تشو بیعمله شعارو نو نه جوړیږی.

پای.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ